شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت


**د حديث شريف ژباړه:**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:** زما زړه غواړي یو څو ځوانانو ته ووایم، چې ډېر لرګي سره راټول کړئ؛ بیا زه هغو خلکو ته ورسم، چې بې له عذره په کورونو کې لمونځ کوي او د هغو کورونه ور وسوځوم.

(رواه مسلم باب فضل الصلوٰ ة الجماعة وبيان التشديد في المختلف الي (ص: ۲۳۲ ج: ۱).

**ترجمه حديث شريف:**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید:** دلم می خواهد به چند جوان بگویم که چوب زیادی جمع کنید. بعد من به طرف آنعده کسانی برم و خانه های شان را آتش بزنم که بدون کدام عذری نماز های شان را در خانه ادا میکنند.

رواه مسلم باب فضل الصلوٰة الجماعة وبيان التشديد في المختلف الي (ص: ۲۳۲ ج: ۱)

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)


شنبه| د صفرالمظفر ۱۳-۱٤٤٦ل س/د زمري ۲۷-۱٤۰۳ل ل/ د اګست ۱۷-۲۰۲٤ز/خلورم کال / ۱۱۱ ګڼه/ ٤ مخیزه




## سر مقاله

### د ګمرکونو تخنیکي ارزونه ولي مهمه ده؟

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د اسلامي امارت له بیا واک ته رسېدو را وروسته په هرو څو میاشتو کې د هیواد د ټولو ګمرکونو د چارو تخنیکي ارزونه ترسره کوي، د تېر کال له همغه مهال سره ئې پرتله کوي، چې په پایله کې د ګمرکونو د فعالیتونو، کاري بهیر، د کارکوونکو د نوښتونو او لاسته راوړنو، صادراتو، وارداتو او ټرانزیټ ټول اړخونه په جامع شکل پکښې څېړل کېږي، تحلیلېږي او تر ټاکل سوي میکانیزم او پلان لاندې د راتلونکو دا ډول ارزونو له پاره په نویو لارو چارو، د نیمګړتیاوو په له منځه وړلو، د غوره چارو په لا پیاوړي کولو غور او کار کېږي. دغه چاره د دې سبب ګرځي، چې د سوداګرو ستونزې ژر حل سي، د سوداګریزو محمولو په تګ راتګ کې اسانتیا رامنځته سي، د ملي سوداګرو رضایت ترلاسه سي او په ورته وخت کې د توکو د غیري قانوني وړلو را وړلو مخه ونیول سي او بالاخره عواید پرته له تېښتي د امارت خزانې ته وسپارل سي.

د روان کال په چنګاښ میاشت کې هم په ګمرکونو کې د تر سره سویو فعالیتونو ټولیز راپور د ګمرکونو رهبرۍ او مسئولینو ته وړاندي سو. په یاده موده کي د عوایدو د راټولېدو، د هیواد په ګمرکونو کې د تر سره سوي سوداګرۍ، د وارداتي توکو د ګمرکي ارزښت او د سوداګریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه بشپړ معلومات ورکړل سول، چې له مخې ئې د پروسږ کال د همدې مودې په پرتله، د ګمرکونو چارې (۳۷) سلنه مثبتې وښودل سوې. د همدې موضوع په تړاو د ګمرکونو په لوی ریاست کې د رهبرۍ تر مشرتابه لاندې ناسته جوړېږي، چې په تړاو ئې هر اړخیز تخنیکي بحثونه کېږي او د چارو د لا پرمختګ په موخه د ولایتي ګمرکونو د مسؤلینو ستونزې او وړاندیزونه اورېدل کېږي او بیا وروسته مسئولو کسانو ته د هرراز همکارۍ ډاډ ورکول کېږي، کاري ټیم نور هم هڅول کېږي او بالاخره د کاري ټیم په چارو کې د نوښتونو او غوره خدمتونو ځرګ لیدل کېږي.

په وروستیو دریو کلونو کي د ګمرکونو چارو، عصري کولو، سمبالولو او د تخنیکي او مسلکي پرسونل وړپېژندلو ته ډېره پاملرنه سوې. تاسو هم پوهېږئ، چې ګمرکونه د ملي عوایدو په ترلاسه کولو کې بې ساري او اساسي منابع دي؛ نو ځکه ئې په مجهزو ډیجیټلي او انالوګ تلو او پرمختللیو سکېنرونو سمبالولو ته هم بلې رانغښتل سوي. همدا وو، چې څه موده وړاندي د مالیې وزارت او یوه خصوصي شرکت ترمنځ د څه کم اته میلیارده افغانیو په ارزښت تړون لاسلیک سو، څو په (۱۲) ګمرکونو کې (۲۴) ستر پرمختللي سکېنرونه او د هوايي ډګرونو په ترمینلونو کې (۱۳) واړه سکېنرونه نصب کړي. په دې کار سره به هم ګمرکونه عصري سي، عواید به لوړ سي، د قاچاق او ناقانونیو مخه به ونیول سي او د خصوصي سکټور ملاتړ ته به هم ښه زمینه برابره سي.

**در نبشت**

**اداره**

## د آقینې په ګمرک کې د شاوخوا (۷۵) میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو پروژو چارې پیل سوې



د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست له لوري د فاریاب ولایت د اقینې په ګمرک کې د (۷۴،۷۹۴) میلیونه افغانیو په ارزښت د پارکینګ د کانګرېټ کولو، د چاپېر دېوال او ټاورونو د رغولو چارې پیل سوې. د آقینې ګمرک د پارکینګ جوړولو پر پروژې (۲۹،۹۹۹) میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې په (۵،۵) جریبه ځمکه کې به په اساسي ډول کانګرېټ اچونه وسي او چارې به ئې په راتلونکو اوو میاشتو کې بشپړې سي. همدارنګه د یاد ګمرک د چاپېر دېوال او ټاورونو د جوړېدو پر پروژې باندې (۴۴،۷۹۵) میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې د چاپېر دېوال تر څنګ به (۸) ټاورونه هم جوړ سي او چارې به ئې په راتلونکو لسو میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل سي. د یادو پروژو لګښت د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي او په بشپړېدو سره به ئې سوداګرو او د ګمرک کارکوونکو ته ګڼې اسانتیاوې رامنځته سي.

## د چنګاښ په میاشت کې د هیواد ګمرکي چارو (۳۷) سلنه پرمختګ کړی دئ



د روان (۱۴۰۳هـ.ل) مالي کال د چنګاښ (سرطان) په میاشت کې په ګمرکونو کې د ترسره سویو چارو د تخنیکي ارزونې ناسته، د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ پر لیکه او حضوري بڼه جوړه سوه. په دغه ناسته کې د روان کال په چنګاښ میاشت کې په ګمرکونو کې د تر سره سویو فعالیتونو ټولیز راپور وړاندې سو؛ په یاده موده کې د عوایدو د راټولېدو، د هیواد په ګمرکونو کې د تر سره سوي سوداګرۍ، د وارداتي توکو د ګمرکي ارزښت او د سوداګریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه بشپړ معلومات وړاندې سول، چې له مخې ئې د تېر کال د همدې مودې په پرتله، د ګمرکونو چارې (۳۷) سلنه مثبتې وښودل سوې. د وړاندې سوي راپور په تړاو هر اړخیز تخنیکي بحثونه وسول او د چارو د لا پرمختګ په موخه د ولایتي ګمرکونو د مسؤلینو ستونزې او وړاندیزونه واورېدل سول، چې د ګمرکونو د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل سو او ور سره اړیني سپارښتني هم شریکي سوې.

## د ابونصر فراهي ګمرک د هنګرونو د جوړېدو چارې (٦٦) سلنه بشپړې سوي دي

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست له لوري د ابونصر فراهي په ګمرک کې د دوه بابه هنګرونو د رغوني پروژې چارې په چټکۍ سره رواني دي او تر دې مهاله د یادې پروژې چارې (٦٦) سلنه پر مخ تللي دي. پر یاده پروژه څه باندې (۳۴) میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي. د دغې پروژې په بشپړېدو سره به د سوداګریزو توکو د خوندیتوب په برخه کې سوداګرو ته زیاتي اسانتیاوي رامنځته سي.



د یادوني وړ ده، چې د یادې پروژې رغنیزې چارې د (۱۴۰۲ هـ.ل) کال د لړم په میاشت کې پیل سوي وې، چې د روان (۱۴۰۳هـ.ل) کال په همدې میاشت کې به بشپړې او ګټې اخیستني ته وسپارل سي.




**له ۱۳ وزارتونو او امارتي ادارو سره د غیرمالیاتي عوایدو د تحلیل او ارزوني په تړاو ناسته وسوه**

م ۲



**د مرکز او ولایتي مستوفیتونو د املاکو کارکوونکو ته انلاین روزنیز پروګرام جوړ سو**

م ۲




**د هیواد ۳۴ مستوفیتونو له پاره د جوړ سوي روزنیز پروګرام ممتازو ګډونوالو ته ستاینغونډه جوړه سوه**

م ۲



**د ولایتي مستوفیتونو د بررسۍ کارکوونکو ته جوړ سوی روزنیز پروګرام پای ته ورسېد**

م ۲



**اهمیت بازار های پولی در افغانستان**

م ۳



**منځنۍ اسیا: د نړیوال ټرانسپورټ او لوژیستیکي مرکز په توګه**

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

# له ۱۳ وزارتونو او امارتي ادارو سره د غیرمالیاتي عوایدو د تحلیل او ارزونې په تړاو ناسته وسوه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس حافظ مولوي شاه حسین حسیني په مشرۍ د (۱۳) وزارتونو او امارتي ادارو له استازو سره د غیر مالیاتي عوایدو د تحلیل او ارزونې په تړاو ناسته وسوه. په دغه ناسته کې د یادو وزارتونو او ادارو د غیر مالیاتي عوایدو د راټولولو بهیر په هر اړخیز ډول و ارزول سو او د یادو ادارو له پاره د غیر مالیاتي عوایدو په برخه کې د ټاکل سوي عوایدي هدف وضعیت ته کتنه وسوه.

همدا راز هغو وزارتونو او ادارو، چې له ټاکل سوي عوایدي هدف څخه لوړ عواید ترلاسه کړي دي، د هغوی ستاینه وسوه او خپلې ګټورې تجربې ئې د ناستې له ګډونوالو سره شریکې کړې. په دغه ناسته کې د وزارتونو او ادارو له پاره د احتمالي کسر د مخنیوي په موخه لازمې سپارښتنې وسوې او غوره عوایدي فرصتونه ورته په ګوته سول؛ تر څو ټاکل سوي عوایدي هدف ته په ښه ډول ورسېږي.



# د مرکز او ولایتي مستوفیتونو د املاکو کارکوونکو ته انلاین روزنیز پروګرام جوړ سو

د مرکز او ولایتي مستوفیتونو د املاکو کارکوونکو ته د مالیې وزارت اداري معینیت د غونډو په تالار کې انلاین روزنیز پروګرام جوړ سو. په دې پروګرام کې د مالیې وزارت اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر، د ولایتي املاکو رئیس محمد نعیم ملنګ او د مرکز او ولایتي مستوفیتونو د املاکو کارکوونکو په انلاین بڼه ګډون درلود. د بشري سرچینو رئیس ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترځنګ وویل، چې دغه روزنیز پروګرام ستاسي د ظرفیت لوړوني په موخه جوړ سوی دئ، بشپړه ګټه ورځخه پورته او د خپل اشغال کړي بست تقاضا پوره کړئ. د املاکو ټول کارکوونکي، مدیران او مسئولین مکلف دي، چې له اصولو سره سم خپلي ورسپارل سوي دندې ترسره کړي. هغه همدارنګه ټینګار وکړ، چې تاسو باید حاضري ته پابنده و اوسئ؛ ځکه چې دا ډول پروګرامونه د بیت المال په پیسو جوړېږي.



د مالیې وزارت اداري معین له شرعي اړخه د بیت المال او املاکو په ارزښت خبري وکړې او زیاته ئې کړه، چې مونږ ټول هڅه کړې؛ څو کار اهل کار ته وسپارو، بیت المال د ټول ملت شتمني ده؛ نو په ساتنه کې ئې ټول باید هڅه وکړو؛ تر څو اقتصادي ثبات او ټولنیز پرمختګ رامنځته کړو. نوموړي زیاته کړه، چې له دغو فرصتونو څخه په ګټه اخیستني خپلې وړتیاوې لوړې کړئ او هغه څه، چې له دغو پروګرامونو څخه زده کوئ تر خپلو همکارانو ئې هم ورسوئ.

د یادوني وړ ده، چې په دغه (۲۰ ورځني) روزنیز پروګرام کې به د امارتي املاکو پر ارزښت، له غصب څخه ئې د بیا راګرځولو پر څرنګوالي، له املاکو څخه د استفادې پر طرحو او په ولایتونو کې د املاکو پر کره تشخیصولو روزنه ورکړل سي.

# د ولایتي مستوفیتونو د بررسۍ کارکوونکو ته جوړ سوی روزنیز پروګرام پای ته ورسېد

د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست له لوري، د ګمرکونو او عوایدو ملی اکاډمۍ د (۱۴۰۳هـ.ل) کال له تدریسي پلان سره سم د ولایتي مستوفیتونو د بررسۍ (۳۳) تنو کارکوونکو له پاره جوړ سوی روزنیز پروګرام پای ته ورسېد. د یاد پروګرام په اختتامیه غونډه کې د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس مولوي حافظ شاه حسین حسیني، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمد شاه شاکر، د ولایتونو د انسجام رئیس مولوي نجیب الله او د ولایتي مستوفیتونو د بررسۍ کارکوونکو ګډون کړی وو. د بشري سرچینو رئیس د یاد پروګرام له ګډونوالو څخه وغوښتل، چې د ترلاسه سوي پوهې په مټ د بررسۍ اړوند چارې په پوره دقت او مسلکي ډول پر مخ یوسي او په خپل منځ کې د پوره همکارۍ او همغږۍ فضا رامنځته کولو سربېره، ترلاسه سوي زده کړې له خپلو همکارانو سره هم شریکې کړي.

همداراز د عوایدو لوی رئیس وویل، چې د بررسۍ مسئولین باید د اړوندو چارو پر مهال د هر ډول بې عدالتۍ څخه په کلکه مخنیوی وکړي او مسئولیتونه په بشپړه رښتینولۍ سره پر مخ یوسي. عصمت الله خادم د ولایتي مستوفیتونو په استازولۍ د دې روزنیز پروګرام د جوړولو له امله منته وکړه او په راتلونکي کې هم د ورته ګټورو پروګرامونو د جوړولو غوښتونکی سو. په پای کې له دغه روزنیز پروګرام څخه فارغ سویو ګډونوالو ته تصدیق پاڼې وویشل سوې.

د یادوني وړ ده، چې په دغه (۱۵) ورځني پروګرام کې ګډونوالو ته د مالیاتي قوانینو، د بررسۍ طرزالعملونو، د محاسباتو او مالیاتي سیستمونو په برخو کې د مجربو ټرینرانو له لوري روزنه ورکړل سوه.



# د هیواد ۳۴ مستوفیتونو له پاره د جوړ سوي روزنیز پروګرام ممتازو ګډونوالو ته ستاینغونډه جوړه سوه




د مالیې وزارت د خزاینو لوی ریاست له لوري د هیواد (۳۴) مستوفیتونو د مالي او حسابي چارو مسؤلینو له پاره په اړوندو برخو کې د جوړ سوي (۴۵) ورځني روزنیز پروګرام ممتازو ګډونوالو ته د وزارت د رهبرۍ او مسؤلینو له لوري ستاینلیکونه ورکړل سول. په همدې موخه جوړه سوې غونډه کې د مالیې وزارت مالي معین حاجي عبدالقدیر احمد، د ګمرکونو او عوایدو معین ملا عبدالقاهر حاجي ادریس، اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د وزارت یو شمېر رئیسانو، ولایتي مستوفیانو او کارکوونکو ګډون کړی وو. د مالیې وزارت مالي معین د داسي مهمو روزنیزو پروګرامونو جوړول د کارکوونکو د ظرفیت لوړوني په برخه کې ګټور وبلل او زیاته ئې کړه، چې کارکوونکي باید له داسي پروګرامونو څخه په ګټې اخیستني سره اړوندي چارې په پوره رښتینولۍ او مسلکي ډول پر مخ یوسي. د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین او همدا راز د دغه وزارت اداري معین هم په خپلو خبرو کې د کارکوونکو پر ظرفیت لوړونه او مسلکیتوب ټینګار وکړ او دغه شان روزنیز پروکرامونه ئې د کارکوونکو له پاره ستر فرصتونه وبلل، چې د دوی مسلکي ظرفیتونه ورسره لوړېږي او د سپارل سویو مسؤلیتونو د ښه ترسره کولو او ولس ته د صادقانه خدمتنو وړاندي کولو ښه زمینه برابرېږي. د ولایتي مستوفیتونو استازو هم دوی ته په اړوندو برخو کي د یاد روزنیز پروګرام د جوړولو له امله مننه وکړه او داسي پروګرامونه ئې د چارو د لا ښه پرمختګ، لا ډېرې روڼتیا رامنځته کېدلو، د ملي عوایدو په ډېروالي او لګښتونو د کنټرول په برخو کې خورا مهم او ګټور وبلل.

# د هیواد د پنځو زونونو د مستوفیتونو له مسئولینو سره د مقایسوي عوایدو د تحلیل ناسته وسوه

د مالیې وزارت د عوایدو لوي رئیس حافظ مولوي شاه حسین حسیني په مشرۍ د هیواد د (۵) زونونو د مستوفیتونو له مسئولینو سره د مقایسوي عوایدو د تحلیل په موخه انلاین ناسته وسوه. په دغه ناسته کې د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال مولوي منصورالحق ذاکر، د ولایتي عوایدو د همغږۍ او پراختیا رئیس مولوي عبدالمجید نجیب الله، د عوایدو لوی ریاست یو شمېر رئیسانو او د هیواد د (۵) زونونو د مستوفیتونو مستوفیانو ګډون کړی وو. د عوایدو لوی رئیس په خپلو خبرو کې د مستوفیتونو او عوایدو لوی ریاست ترمنځ پر لا ښې همغږۍ ټینګار وکړ او زیاته ئې کړه، چې ټول مسئولین باید خپلو مسئولیتونو ته لاښه متوجه سي او ور سپارل سوي چارې په ښه توګه ترسره کړي؛ تر څو ملي بودیجه لا غښتلې سي او هغه موخه، چې د ولس خدمت دئ تر لاسه ئې کړو. په دې ناسته کې همداراز د مقایسوي عوایدو په اړه هر اړخیز بحث وسو او د مستوفیتونو مسئولینو ته د اړوندو چارو د لا ښه پرمختګ په موخه اړینې سپارښتنې وسوې.



SHTAMANI
اوونیزه

# اهمیت بازار های پولی در افغانستان

عبدالبصیر عمر شاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل

### مقدمه

بازار پول به بازی برای معامله بدهی های کمتر از یک سال اطلاق می شود. در درجه اول توسط دولت ها و شرکت ها برای ثابت نگه داشتن جریان های نقدی و توسط سرمایه گذاران برای کسب سود متوسط استفاده می شود. بازار سرمایه به خرید و فروش اوراق بدهی بلندمدت و اوراق بهادار اختصاص دارد. از این که بحث بالای مسایل پول و بازار پول بسیار گسترده است و از نظر زمان، کار تحقیقی و نوشته ای مجال زیادی را میخواهد، بنا بر این در این نوشته کوتاه فقط به برخی مفاهیم اساسی و و دلیل عمده روآوری مردم کشور به بازار های پولی جهت حل مشکلات پولی شان بطور کوتاه و عام فهم پرداخته میشود.

### بازار، تقسیم بندی بازار ها و فعالان بازار ها:

بازار یکی از انواع مختلف سیستم‌ها، نهادها، رویه‌ها، روابط اجتماعی و زیرساخت هایی است که به موجب آن طرفین مبادله می‌کنند. به عبارت دیگر: مجموعه ای که در آن دو یا چند طرف در تبادل کالا و خدمات شرکت می کنند. در حالت ایده آل، بازار مکانی است که دو یا چند طرف درگیر خرید و فروش هستند. دو طرف درگیر در یک معامله فروشنده و خریدار نامیده می شوند. بازارها تجارت را تسهیل می کنند و توزیع و تخصیص منابع را در جامعه امکان پذیر می کنند. بازارها امکان ارزیابی و قیمت گذاری هر کالای قابل معامله را فراهم می کنند. بازارها می توانند بر اساس محصولات (کالاها، خدمات، عوامل کار و سرمایه، تمایز محصول، محل انجام مبادلات، خریداران هدف، مدت زمان، فرآیند فروش، مقررات دولتی، مالیات، یارانه ها، حداقل دستمزدها، سقف قیمت ها و غیره) متفاوت باشند. قانونی بودن مبادله، نقدینگی، شدت سفته بازی، اندازه، تمرکز، عدم تقارن مبادله، قیمت نسبی، نوسانات و گستردگی جغرافیایی ممکن است به طور قابل توجهی متفاوت باشد. برای مثال بازار مواد غذایی در یک ساختمان واحد، بازار املاک و مستغلات در یک شهر محلی، بازار مصرف در سطح کشور یا اقتصاد یک بلوک تجاری بین المللی که در آن قوانین یکسان اعمال می شود در سراسر بازارها همچنین می توانند در سراسر جهان باشند. بطور مثال تجارت جهانی الماس. اقتصادهای ملی را می توان نمونه ی بازارهای توسعه یافته یا بازارهای در حال توسعه طبقه بندی کرد. فعالان بازار از تمامی خریداران و فروشنده گان تشکیل شده است. میتوان یک بازار معین را ( بازار آزاد ) دانست که عاری از مداخله دولت است که در آن اقتصاد خرد به طور سنتی بر مطالعه ساختار بازار و کارایی تعادل بازار تمرکز دارد.

### بازار پول:

در جهان امروز بازار پول یک بازار مالی است که در آن فقط ابزارهای بدهی کوتاه مدت (معمولا آنهایی که سر رسید اولیه آنها کمتر از یک سال است) معامله می شود. اوراق بهادار بازار پول معمولاً بیشتر از اوراق بهادار بلندمدت معامله می شوند و بنابراین تمایل به نقدشوندگی دارند. علاوه بر این، اوراق بهادار کوتاه مدت دارای نوسانات کمتری در قیمت نسبت به اوراق بهادار بلند مدت هستند که باعث می‌شود سرمایه‌گذاری امن‌تری داشته باشند. ابزارهای بدهی معامله شده در بازار پول به دلیل کوتاه مدت تاسر رسید، کمترین نوسانات قیمتی را متحمل می شوند و به همین ترتیب کمترین ریسک سرمایه گذاری را دارند. بازار پول در چهار دهه گذشته دستخوش تغییرات بزرگی شده است، به طوری که میزان برخی از ابزارهای مالی با سرعتی بسیار سریعتر از سایرین رشد کرده است.



از آنجایی که سیستم بانکی افغانستان به دلیل بی ثباتی شرایط سیاسی، اقتصادی، امنیتی و... نتوانسته است خدمات کافی را برای مسایل پول و ارز ارائه دهد، از سوی دیگر تبادل و انتقال ارز در سطح محلی و بین المللی در تجارت (به ویژه در تجارت بین الملل) حیاتی است، اهمیت بازارهای مبادله پول در افغانستان بیشتر بوده است. بیشتر مردم افغانستان برای حل مشکلات پولی خود به جای مراجعه به بانک ها به بازارهای مبادله پول مراجعه می کنند. دلیل آن ناتوانی بانک ها در پاسخگویی به تمام نیازهای مردم مربوط به پول است. صرافی های افغانستان تقریباً تمام ولایات و ولسوالی های افغانستان را پوشش می دهند و خدمات پولی را به راحتی به مردم و همچنین تمام کشورهای جهان عرضه می کنند. امروز دنیا به شکل یک روستا تبدیل شده است. حفظ روابط مستحکم کافی در حوزه های اجتماعی، سیاسی، نظامی، فرهنگی و به ویژه روابط تجاری با مناطق اقتصادی جهان برای هر کشوری حیاتی است. در افغانستان، سیستم بانکی نمی تواند چنین تسهیلاتی را به اندازه کافی در اختیار تاجران برای مقاصد صادرات و واردات قرار دهد، پس بازارهای مبادله ارز به صورت رسمی و غیر رسمی این شکاف را تا حدی پر می کنند. به همین خاطر است که معاملات تجاری بین طرفین با تسهیلات انتقال ارز و صرافی انجام می شود. به دلیل چهار دهه جنگ و مشکلات پس از جنگ در افغانستان مانند؛ جنگ ها و درگیری های تحمیلی، مشکلات داخلی دولت ها در طول تاریخ معاصر مانند فساد، عدم ثبات امنیتی و سیاسی، رشد اقتصادی و مالی به اندازه کافی ملموس نبود. این امر بازارهای پولی این کشور را با مشکل بزرگ مواجه کرده است. مشکلات ناشی از مسائل متعددی از جمله نبود امنیت، سیاست های مالی ناکارآمد، فساد اداری تا کمبود دانش مالی و ظرفیت انسانی اختصاص یافته در بازار پول و سیستم بانکی بوده است. آسودگی اجتماعی در همه عرصه های زندگی بدون ریشه یابی این گونه مشکلات و مبارزه با آن ها برای مردم قابل ارائه نیست، که این ریشه یابی کار و تحقیق در زمان بیشتر را میخواهد که در این نوشته کوتاه نمیتوان به آن ریشه ها اشاره کرد.

### نتیجه گیری:

حواله یک سیستم باستانی، کاربر پسند، ارزان، پذیرفته شده و آسان برای انتقالات پول است که از زمان جاده ابریشم باستانی تا تجارت جهانی امروزی رد کشور ما به خوبی کار می کرد. دولت افغانستان باید به ثبات سیاسی توجه کند. زیرا اگر در کشوری ثبات سیاسی وجود نداشته باشد، شاخص های دیگری فدای مسائل سیاسی شده و وابستگی نظام های اقتصادی، مالی و بانکی بیشتر منجر به بحران اقتصادی می شود. دولت باید یک استراتژی جامع برای مقابله با فساد ایجاد کند. دولت افغانستان باید با حکمرانی خوب و منطقی بر اساس شایستگی تحصیلی فردی بدون در نظر گرفتن تبعیض های قومی، سیاسی، جنسیتی و مذهبی، بازارهای پول، تجارت و مردم را از نظر روانی جذب کند.


## اعلانات داوطلبی

### د داوطلبی خبرتیا!

افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر تولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د بلخ ولايت د محصولي او سرحدی ګمرك د آرشيف آلماريو د جوړولو) په پروژه کي چي تشخيصيه نمبر ئې (۰۷٤-NCB/W/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لاري د شرطپاني له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.
ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو رياست – د تدارکاتو مشاوريت.
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (سنبلې/ ۴ / ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفرګشايي ټاکلې نېټه: د (سنبلې/ ۱۳ /۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمين: ديرش زره (۳۰۰۰۰) افغانۍ.
په ځنډ رسېدلي او انترنيتي افرونه د منلو وړ نه دي.

### د داوطلبی خبرتیا!

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر تولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د وزارت د جنراتورونو د تيلو ټانګ د بيارغونې) په پروژه کي چي تشخيصيه نمبر ئې (۰٦۹-NCB/W/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لاري د شرطپاني له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.
ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو رياست – د تدارکاتو مشاوريت.
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (سنبلې/ ۳ / ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفرګشايي ټاکلې نېټه: د (سنبلې/ ۱۲ /۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمين: شل زره (۲۰۰۰۰) افغانۍ.
په ځنډ رسېدلي او انترنيتي افرونه د منلو وړ نه دي.

### د داوطلبی خبرتیا!

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر تولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د کابل ګمرك ۱۳ هنګر ته د الماريو د تهيې او نصبولو) په پروژه کي چي تشخيصيه نمبر ئې (۰۷۲-NCB/W/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لاري د شرطپاني له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.
ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو رياست – د تدارکاتو مشاوريت.
د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (سنبلې/ ۰٦ / ۱۴۰۳) له غرمې وروسته ۰۲:۰۰ بجې.
د آفرګشايي ټاکلې نېټه: د (سنبلې/ ۱۴ /۱۴۰۳) له غرمې وروسته ۰۲:۰۰ بجې.
د آفر تضمين: څلويښت زره (۴۰۰۰۰) افغانۍ.
په ځنډ رسېدلي او انترنيتي افرونه د منلو وړ نه دي.

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، پروژه تدارک روغنیات و فلتر باب برای وسایط وزارت مالیه دارای نمبر قرارداد (۱۱۱-NCB/G/۱٤۰۳/MOF) را با شرکت محترم تجارتی سمسور بهیر دارنده جواز نمبر ۸۹۵٦٤ به قیمت مجموعی مبلغ ۸،٤۸۳،۸۵۰ (هشت میلیون و چهارصدو هشتادو سه هزار و هشتصدو پنجاه) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات - کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات - مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونيزه


د امتياز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)






# منځنۍ اسيا: د نړيوال ټرانسپورټ او لوژيستيکي مرکز په توګه



د ازرنيوز ـ AZERNEWS په نوم يوې اذربايجانۍ رسنۍ د مرکزي اسيا په تړاو تبصره خپره کړې ده، چې په دې تحليل کې په عمومي ډول پر دې باندي بحث سوی دئ، چې له چين څخه د اروپا خوا ته سوداګري وده وکړي او اقتصادي اتصال ټېک سي. د دې تر څنګ افغانستان و دې نړيوال ټرانسپورټي او لوژيستيکي/ لوجيستيکي مرکز ته رابلل هم ارزښتمن ګڼل سوی دئ. په تبصره کې لومړی د قزاقستاني چارواکو هڅې بيان سوي دي، چې منځنۍ اسيا د اقتصادي اتصال، لېږد رالېږد او نړيوال مسير په توګه معرفي کوي. دا چې منځنۍ اسيا په څه ډول د اقتصادي مسير حيثيت لري، په اړه ئې په متن کې «يو کمربند يوه لار» نوښت، د «شمال – سوېل» نړيوال ټرانسپورټي دهلېز او «ټرانس – کسپين» نړيوال ټرانسپورټ په نوم د بېلابېلو سوداګريزو مسيرونو يادونه سوې ده، چې له چين څخه د ترکيې او د اروپا د پولېنډ/ لهستان تر پولو پوري د سوداګريزو دهلېزونو په نوم مسمی دي. د تبصرې متن په ټوليز ډول د منځنۍ اسيا هيوادونو ته ئې د ګټې او ګډون په اړه راڅرخي، چې وايي په يادو اقتصادي مسيرونو سره به سيمه د اقتصادي اکمالاتو د ځنځير د کړۍ بڼه واخلي او په مرسته به ئې اسيا او اروپا و نښلي. متن د «ټرانس – کسپين» اقتصادي مسير په عليحده ټکو سره بيانوي، چې وايي دا دهلېز د مرکزي اسيا د ټرانسپورټي ستراتيژۍ يوه اړينه پرزه ده او پراختيا ئې خورا ارزښت لري. دا دهلېز، چې چين له اروپا سره د قزاقستان او سوېلي قفقاز له لاري سره وصلوي؛ نو ترکيه په کښې د اقتصادي خوځښت حيثيت لري. تحليل اذربايجان او د دې ملک بندرونه په داسي دهلېزونو کې ارزښتناک ګڼي. دا چې ياد سوداګريز

> «د اذربايجان سترېټيجيک/ ستراتيژيک موقعيت په دې ټرانسپورټي شبکو کې د افغانستان د ادغام او ګډون ملاتړ کوي؛ تر څو په سوېلي اسيا او د هند په سمندر کې بازارونه پيدا سي.»

دهلېزونه په مرکزي اسيا کې تېرېږي، نو په تبصره کې د افغانستان ښکېلتيا/ ګډون ته هم اشاره سوې ده او د افغانستان د جلب له پاره ئې داسي الفاظ راوړي دي: «د اذربايجان ستراتيژيک موقعيت په دې ټرانسپورټي شبکو کې د افغانستان د ادغام او ګډون ملاتړ کوي؛ تر څو په سوېلي اسيا او د هند په سمندر کې بازارونه پيدا سي.» وايي د اذربايجان ستراتيژيک موقعيت د هغې پولي ملاتړ کوي، چې افغانستان په دې ټرانسپورټي او سوداګريزه شبکه کې ور ګډوي؛ تر څو د سوېلي اسيا هيوادونو ته مسير سيخ سي.

# "Customs Affairs Progressed by 37% in Saratan FY1403" - General Directorate of Customs YoY Evaluation Observes

> According to the evaluation report, customs affairs observed progress 37% positive on a YoY basis comparatively.
> The authority of leadership assured the officials of provincial customs for tackling of obstacles.

The 'technical evaluation meeting of the customs affairs' in the month of Saratan of the current fiscal year 1403 (21/ June – 21/ July/ 2024) was held online and as physical meeting/ in-person gathering under the chairmanship of the General Directorate of Customs, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed. In this session, a comprehensive report was presented regarding the activities at the customs in the month of Saratan of current year. During this period, complete information was provided about the collection of revenues, the trade conducted at nationwide customs, the customs value of imported goods and the scores and registered weight of commercial cargo, which this evaluation was compared to the same period of last year in the basis of YoY (year-on-year) as customs affairs were assessed 37% positive. According to the presented report, all-round technical discussions were held. The problems and suggestions of the officials of the provincial customs were heard for the further development of the affairs, which the authority of leadership assured them all for tackling of obstacles after sharing crucial recommendations.

# General Directorate of Customs Launches 2 Projects at Aqina Customs After MoF Grants 75 mln Afs From Development Budget



The General Directorate of Customs of MoF has started the work of concreting the parking lot, reconstructing the surrounding wall and towers worth 74,794 million Afs at the Aqina customs of Faryab province. The construction project of Aqina Customs Parking will cost 29,999 million Afs, which will consist of concrete pouring on 5.5 Jiribs of land and will be completed within the next seven months. Likewise, the expenditure of the construction of the surrounding wall and towers of the aforementioned customs is 44,795 million Afs, which will also be build eight towers in addition to the surrounding wall. The project will be completed within the next 10 months and will be handed over for public benefiting as MoF pledged. Notably, the expense of these projects will be paid from the development budget of MoF, later than its accomplishment, it will create more facilities for both traders and customs officials wholly.

## د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له خپلواک آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندي ادرسونو له لاري شريک کړي.
ټيليفون او وټس اپ شميرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af



## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومي ستونزي حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

## رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱